Kompetansesenteret
Tannhelse Midt

## د غاښونو ایمپلانټ

د غاښونو ایمپلانټ کېدای شي چې د یوه یا ډېرو غاښونو ځای ونیسي. دلته تاسو کولای شئ چې د غاښونو د ایمپلانټونو، لګښتونو، ساتلو او نورو شیانو په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ چې کېدای شي ستاسو لپاره ګټور وي.

## د غاښونو ایمپلانټ څه شی دی؟

د غاښونو ایمپلانټ د غاښ د ریښې یو مصنوعي تقلید دی چې د ژامې په هډوکي کې ځای پر ځای کېږي. د ایمپلانټ په پورته برخه کې د غاښونو ډاکټر کولای شي چې یو تاج، بریج یا مصنوعي غاښ ځای پر ځای کړي تر څو د لوېدلي غاښ ځای ونیسي. پخپله ایمپلانټ له تیتانیوم څخه جوړ شوی دی او پیچ ته ورته جوړښت دی. ایمپلانټونه کېدای شي چې مختلفي اندازې ولري مخکې له دې چې پورته جوړښت یې را منځته شي او پرې کېښودل شي، د ژامې په هډوکي کې ښکته کېږي.

## ایمپلانټ ته کله اړتیا وي؟

ایمپلانټونه کولای شي د هغو غاښونو ځای ونیسي چې د کندولیو، ناروغی، ټپونو له امله له منځته تللي وي یا هغه غاښونه چې په طبیعي توګه په خپل ځای کې نه وي. که چېرته ستاسو ډېر غاښونه له منځه تللي وي، نو د غاښونو ډاکټر کولای شي چې ډېر ایمپلانټونه درته نصب کړي تر څو وکولای شي د بریج یا مصنوعي غاښونو لپاره د نښلولو ځای جوړ کړي.

## څوک کولای شي ایمپلانټ ترلاسه کړي؟

ایمپلانټ درملنه د درملني یوه پېژندل شوې بڼه ده چې ډېری خلک کولای شي ترې ګټه واخلي. ډېری خلک چې یو یا ډېر غاښونه یې له لاسه ورکړي وي، کېدای شي چې درملنه یې وشي، مګر د ژامې د هډوکي کوچنیوالی، ناروغي یا د درملو کارول کېدای شي چې له ایمپلانټ سره د درملني امکان محدود کړي. د غاښونو په کلینیک کې یوه بشپړه معاینه کولای شي تاسو ته ځواب درکړي چې ایا ایمپلانټ ستاسو د له منځه تللي غاښ لپاره غوره لاره ده او که کومه بله درملنه.

## ایمپلانټ څومره وخت دوام کوي؟

دا کولای شي د اوږدې مودې لپاره دوام وکړي او په غوره توګه د ټول ژوند لپاره. دا چې ایمپلانټ د څومره وخت لپاره دوام کوي، دا په دې پورې اړه لري چې د هغوی د ساتنې لپاره څه کېږي. ورځنی کار تر ټولو مهم دی او له ښه پاکولو سره به ایمپلانټ د ټول ژوند لپاره پاتې شي.

درملنه څنګه ترسره کېږي:

1. بشپړه معاینه چې ایکسرې ګانې او د ژامې پرېنټونه پکې شامل دي.

2. ایمپلانټ د ژامې په هډوکي کې ترسره کېږي او رغېدنه یې وخت ته اړتیا لري، په غیر معمول ډول دا له 3 څخه تر 6 میاشتو پورې وخت نیسي تر څو پېچ یې کلک شي.

3. ځینې وخت چې کله ایمپلانټ روغ شي، نو په ژامه کې ښکته پټېږي. په دې صورت کې یوه کوچنۍ عملیات ته اړتیا ده تر څو په ژامو کې یو ایکسټېنش ځای پر ځای کړي.

4. وروسته له هغې چې ایمپلانټ په ژامه کې په بشپړه توګه روغ شي، نو د غاښونو ډاکټر قالبونه اخلي چې هغه بیا د غاښونو تخنیکي شخص ته استول کېږي تر څو د تاج، بریج یا مصنوعي غاښونو د جوړولو لپاره ترې کار واخلي.

5. د غاښونو ډاکټر پورتنی بشپړ شوی جوړښت (تاج، بریج یا مصنوعي غاښ) په خوله کې له ایمپلانټ سره نښلوي.

6. د غاښونو له متخصص یا د حفظ الصحې له متخصص سره لیدنې.

Adresse: Professor Brochs gate 2, 7030 Trondheim Telefon: + 47 941 33 180 | Org.nr: 924 378 611
Epost: post@tkmidt.no | Web: www.tkmidt.no

## د ايمپلانټ لګښت څومره دی؟

البته دا به دې ته په کتو سره توپير ولري چې تاسو څو دانې او کوم ډول غاښونه غواړئ يا تاسو د درملنې کوم ډول غواړئ. تاسو حق لرئ چې د غاښونو ډاکټر تاسو ته يو مشخص اټکليز لګښت ووايي. د يوه واحد غاښ پر ځای د ايمپلانټ ځای پر ځای کول د دې په پرتله يو څه ډېر لګښت لري چې تاسو مروج بريج انتخاب کړئ، مګر تاسو به د څنګ غاښونو له لګېدو څخه مخنيوی وکړئ. په مشخصو مواردو کې کېدای شي چې تاسو د ايمپلانټ د کار لپاره د ټولنيز خونديتوب بيا اداينه ترلاسه کړئ. د غاښونو ډاکټر کولای شي تاسو ته د هغو اصولو په اړه معلومات درکړي چې پلي کېږي او دا چې تاسو کوم حقونه لرئ.

## تاسو پخپله بايد څه وکړئ؟

- خپل د غاښونو ډاکټر ته ټول روغتيايي معلومات ورکړئ تر څو درملنه په خونديتوب سره ترسره شي. بيا د غاښونو ډاکټر همدارنګه کولای شي ارزونه وکړي چې ايا تاسو د ټولنيز خونديتوب د بيا ادايني لپاره مستحق ياست که نه.
- د خپل د غاښونو ډاکټر لارښوونې له جراحي څخه مخکې، په جريان کې او وروسته تعقيب کړئ تر څو له خپلې درملنې څخه غوره پايله ترلاسه کړئ.
- ايمپلانټونه ستاسو د خپلو غاښونو په څېر ښه پاکولو ته اړتيا لري. د ژامو او غاښونو په تاجونو کې د باکتريا جوړښتونه بايد سهار او ماښام لرې شي. ستاسو د غاښونو پر عادي برس سربېره، تاسو بايد د غاښونو د منځ برس وکاروئ او/ يا د امکان په صورت کې د غاښونو تار وکاروئ.
- د ايمپلانټ له ځای پر ځای کولو څخه مخکې، په جريان کې يې او وروسته د سګرټ له څکولو يا نسوارو/ پان له کارولو څخه ډډه وکړئ.

## د ايمپلانټ ساتنه

- ايمپلانټونه ستاسو د غاښونو په روغتيا کې يوه پانګونه ده او ښې ساتنې ته اړتيا لري تر څو د اوږد مهال لپاره پاتې شي.
- د غاښونو د پاکولو او د ورځنۍ ساتنې په اړه لارښوونې د خپل غاښونو له ډاکټر او د حفظ الصحې له مسوول څخه ترلاسه کړئ. تر ټولو مهمه دنده مو ورځنۍ ساتنه ده.
- ايمپلانټونه بايد ستاسو د غاښونو د ډاکټر يا د حفظ الصحې د مسوول له لوري په منظم ډول داسې وکتل شي لکه څرنګه چې ستاسو اصلي غاښونه کتل کېږي.
- که تاسو سګرټ څکوئ، نو د دې خطر زيات دی چې کېدای شي ايمپلانټونه سست شي او لرې کولو ته اړتيا پيدا کړي.

Adresse: Professor Brochs gate 2, 7030 Trondheim Telefon: + 47 941 33 180 | Org.nr: 924 378 611
Epost: post@tkmidt.no | Web: www.tkmidt.no